مطبوعاتي اعلامیه

د سملاسي خپرواي لپاره

۱۲، ۱۳۹۷ جوزا

# په افغانستان کې "د کاروبار د پروسې بهرسپارنې" د نوي صنعت د انکشاف په موخه

## د ټک-نېشن او افغانستان د مالي او بانکي انسټېټیوټ ترمنځ تفاهم وشو

جوزا ۱۲، ۱۳۹۷ (کابل): ټک-نیشن د افغانستان مالي او بانکي انسټیټیوټ سره یوه تفاهم نامه لاسلیک کړه، چې هدف یې په افغانستان کې "د کاروبار د پروسې د بهرسپارنې" یا Business Process Automation (BPO) په نامه د یوه نوي صنعت ایجادول، انکشاف او پایداره کول دي. دغې موخې د رسیدا لپاره به دواړه اداري لاندې فعالیتونه ترسره کوي: د (بي پي او) ایکوسیسټم جوړونه؛ د بي پي او شرکتونو حمایه کول؛ افغانانو ته د نویو مهارتونو ښودنه؛ او له بهرني مارکیټ سره د شراکتونو ایجادول. یاد تفاهم لیک نن په کابل کې د ټک-نیشن په دفتر کې د یوې غونډې په ترڅ کې لاسلیک شوه.

په دغو مراسمو کې د ټک-نیشن رییس، عمر منصور انصاري، د افغانستان لپاره د بي پي او د صنعت پر اهمیت رڼا واچوله، او زیاته یې کړه: "د افغانستان پر مارکیټ له تمرکز سره سره موږ علاقه مند یو چې د اروپا او شمالي امریکا بازارونو ته لار پیدا کړو، څو افغاني شرکتونه د عوایدو نوې لارې ومومي. بي پي او، او په ټوله کې بهرسپارنه (outsourcing)، کارونه ایجادوي، او له سوداګریو سره مرسته کوي چې په خپلو اساسي مسوولیتونو د تمرکز کولو له لارې د خپلو ادارو موثریت لوړ کړي."

د افغانستان مغلق تجاري چاپیریال د افغاني شرکتونو وده ټکنۍ کړې ده. د بي پي او دغه پروګرام به ددوی لپاره د کاروبار نوې لارې پرانیزي، څو دوی وکړی شي کارونه ایجاد کړي او په ټولنه کې موثر واقع شي. دا پروګرام به د افغانانو، په ځانګړي ډول د ښځینه او نارینه ځوانانو د معیشت په بهترۍ کې ډېره مرسته وکړي.

د افغانستان د مالي او بانکي انسټیټیوټ اجرایي رییس، لطف الحق نور پسرلي، په مراسمو کې د خپلو څرګندونو په ترڅ کې وویل: "دا پروګرام به په یوه خورا نوي صنعت کې د میرمنو د وړتیاوو د لوړنې له لارې هغوی د کار جوګه کړي. دا به لا ډېر کارونه وپنځوي او زموږ له ملي کورني ناخالص تولید (GDP) او په لویه کچه له اقتصادي ودې سره به مرستندوی واقع شي."

ټک-نیشن پخوا هم له یوه هندي شرکت، ډېنوا ګلوسافټ، سره تفاهم لاسلیک کړی و څو په سیمه کې د بي پي او کاروبار وده وکړي. دا تفاهم د ۲۰۱۷ کال په سپټامبر کې د یو اېس اې آی ډي لخوا په تمویل شوي پروګرام "د هند-افغانستان د شراکتونو کنفرانس" کې په نوي ډیلي کې لاسلیک شوی و.

ټک-نیشن او د افغانستان مالي او بانکي انسټیټیوټ به په ګډه په
ځایي او نړیواله کچه له حکومتي، خصوصي، مدني فعالانو او ایکوسیسټم جوړوونکو سره شراکتونه ایجادوي چې ددغه پروګرام اهداف په ګډه سره ترلاسه کړي.

د ټک-نیشن په اړه:
ټک-نیشن یو افغاني شرکت دی چې د ټکنالوجی، کارپنځګری، او مدیریت په برخو کې مشاوره ورکوي او له ټکنالوجی د تجارت، تعلیم او ټولنې د ودې لپاره کار اخلي. د کومو اهدافو لپاره چې ټک-نیشن زیار باسي، دا دي: ۱) د ډیسکټاپ، ویب، او موبایل ټکنالویوجی د جوړونې له لارې د تجارتي پروسو اتومات کول؛ ۲) د تعلیمي پروګرامونو له لارې د ځوانانو د کار وړتیا لوړول؛ ۳) د ټکنالوژیکي او علمي سرچینو د ایجاد او تشریک له لارې د وګړو توانمندول؛ ۴) د تاندو شرکتونو د حمایوي پروګرامونو د تطبیقونې له لارې د ثروت او کار ایجادول؛ ۵)د ټکنالوجی د نوښتیزو پروګرامونو د تطبیق له لارې، د اختراع او نوښت فرهنګ دودول؛ ۶) د پالیسی د څېړنې او تحلیل له لارې، د تجارت او ټولنیز انکشاف لپاره د مناسب چاپېریال جوړل.

د افغانستان بانکي او مالي انسټیټیوټ په اړه:
د افغانستان بانکي او مالي انسټیټیوټ پر ۲۰۱۰ ام کال جوړ شو چې د افغانستان په مالي او بانکي سکتور کې پوهنیز، روزنیز او څېړنیز خدمات عرضه کړي. په تیرو ۷ کالونو کې دغه انسټیټیوټ په بیلابیلو موضوعاتو روزنیز پروګرامونه تطبیق کړي دي. پر دې سربیره یې د سیمې په کچه له بیلابیلو بانکونو او مالي موسساتو سره روابط جوړ کړي دي. انسټیټیوټ د یوې ناګټندویه موسسې په توګه له پیله په خپلو امکاناتو او په اداري او تعلیمي کارمندانو سمبال پاتې شوی او د نورې ودې په حال کې دی.

د مطبوعاتي اړیکو لپاره:
بریښنالیک: press@technation.af
ټلفون: 0788161862